**Permanent Mission of Afghanistan to the United Nations**

**د محترم نصیر احمد فایق وینا**

**په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د دایمي استازولۍ سرپرست**

**د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ د یو اتیایمې غونډې په شپږمه کمېټه کې**

**د اجنډا ۸۴مه موضوع: په ملي او نړیواله کچه د قانون حاکمیت**

**د ۲۰۲۶ کال د اکتوبر ۸مه**

**اغلې رئیسې،**

افغانستان د ناپېيلي غورځنګ په استازيتوب له وړاندې شوې وينا سره خپل ملاتړ څرګندوي او لاندې وينا په خپل ملي ظرفيت کې وړاندې کوي.

افغانستان د ملګرو ملتونو د سرمنشي د راپور او د هغه د محوري پیغام هرکلی کوي: د واک کارول باید د قانون تابع وي. د نړيوالو ژمنو رعايت، د قانون له خوا د ټولو برابره ساتنه او ځواب‌ويونکي بنسټونه د سولې او پراختيا لپاره اړين دي.

له جبري واکمنېدو څخه پنځه کاله وروسته، طالبانو د افغانستان د اساسي قانون پلي کول ځنډولي دي او له اسلامي شريعت څخه د ناوړه ګټې اخيستنې او د هغه د تحريف له لارې، په وېره، جبر او ګواښ حکومت کوي. هغوی حقوقي او قضايي تضمينونه له منځه وړي او د تبعيضي فرمانونو له لارې يې خپل واک تحميل کړی دی.

ښځې له قضايي دندو ګوښه شوې دي او د هغوی پر زده‌کړو، کار او تګ راتګ لګېدلو محدوديتونو د قانون پر وړاندې برابري او عدالت ته لاسرسی کمزوری کړی دی.

خپل‌سري نيونې، شکنجه او غچ اخيستونکې کړنې، د پخوانيو چارواکو او د امنيتي ځواکونو د پخوانيو غړو د هدفي وژنو په ګډون، د بې‌مهاره واک او د عدالت او قانون د حاکميت د نشتوالي پايلې څرګندوي. د صحرايي او په عام محضر کې د اعدامونو، بدني سزاګانو، د ښځو او نجونو د خپل‌سرو نيونو او جنسي ناوړه ګټې اخيستنې راپورونه د خپلواکې څېړنې، ساتنې او حساب ورکونې پر بېړنۍ اړتيا ټينګار کوي.

د قانون حاکميت مشروع او ځواب‌ويونکي حکومت ته اړتيا لري او يوازې د فرمانونو تر صادرولو او د محکمو تر شتون پورې محدود نه دی. هغه کسان چې واک کاروي، بايد پخپله هم د قانون تابع وي. هر وګړی بايد د قانون له برابرې ساتنې او داسې خپلواکو بنسټونو ته له لاسرسي برخمن وي چې شکايتونو ته يې رسېدنه وکړي او د حقونو د اعادې او د هغو د نقض د جبران لپاره اغېزمنې لارې برابرې کړي. د افغانستان نړيوالې ژمنې، پرته له دې چې څوک کنټرول په لاس کې لري، لا هم الزام‌آورې دي.

**اغلې رئیسې،**

موږ پر دريو لومړيتوبونو ټينګار کوو.

**لومړی،** د قانون د حاکمیت، عدالت او حساب ورکونې بیا ټینګښت او تلپاتې سولې او ثبات ته رسېدل، مشروع، د خلکو استازې او ځواب‌ویونکې حکومتولۍ ته اړتیا لري. دا موخه باید د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د یوه سیاسي بهیر له لارې تعقیب شي، چې د ملګرو ملتونو ملاتړ او اسانتیاوې ورسره وي او ښځې، مدني ټولنه، دموکراتیک ځواکونه او نور معتبر افغان لوري پکې ګډون ولري.

طالبان باید تبعیضي اقدامات لغوه کړي، د عادلانه محاکمې اصول مراعات کړي او د خپلواکې څارنې زمینه برابره کړي. قاضیان، مدافع وکیلان، څارنوالان او د بشري حقونو مدافعان باید خوندي شي. ښځې باید عدالت ته برابر لاسرسی ولري او په پلې کولو کې یې بشپړ ګډون وکړي.

نړیوال تعامل باید له دغو موخو ملاتړ وکړي او د بشري حقونو په وضعیت کې له داسې ښه‌والي سره مشروط وي چې د اندازه کولو وړ وي او په خپلواک ډول تأیید شي. دا تعامل باید بنسټیز شوی تبعیض عادي نه کړي او د جبر او زور له لارې حکومتولي پیاوړې نه کړي.

**دویم،** د څارنې، راپور ورکونې او حساب ورکونې میکانیزمونه باید پیاوړي شي. موږ په راپور کې د افغانستان لپاره خپلواک تحقیقاتي میکانیزم ته د شوې اشارې هرکلی کوو او د هغه د اغېزمن فعالیت لپاره د کافي سرچینو د برابرولو غوښتنه کوو. شواهد باید وساتل شي، قربانیان او شاهدان خوندي شي او د جرمونو له نړیوالې محکمې سره همکاري پیاوړې شي.

موږ د بشریت ضد جنایت په توګه د **جنسیتي اپارتاید** د جرم ګڼلو او له مجازاتو څخه د معافیت د پای ته رسولو لپاره د ټولو شته حقوقي میکانیزمونو د کارولو ملاتړ کوو. حساب ورکونه باید عدالت او د زیان جبران ته د قربانیانو د لاسرسي حقونه تأمین کړي او د حقونو د نقض د تکرار په مخنیوي کې مرسته وکړي.

**درېیم،** نړیوال حقوق باید په برابره او دوامداره توګه او له انتخابي چلند پرته مراعات شي. شخړې باید په سوله‌ییزو لارو او د ملګرو ملتونو له منشور سره سم حل شي .**له تروریزم سره مبارزه** پر ملکي وګړو د ناقانونه بریدونو یا د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا د نقض توجیه نه شي کېدای. هېوادونه باید هغه اصل مراعات کړي چې له مخې یې هېڅوک داسې ځای ته نه شي بېرته ستنېدای چې له خطر سره مخ وي، او د هغو افغانانو ساتنه وکړي چې د ځورونې او تعقیب له خطر سره مخ دي.

**اغلې رئیسې،**

په پای کې، پر خاوره کنټرول مشروعیت نه ورکوي. د افغانستان راتلونکی باید پر داسې مشروع حکومت ولاړ وي چې د خلکو د ارادې پر بنسټ رامنځته شوی وي؛ داسې حکومت چې خپلو کورنیو او نړیوالو ژمنو ته پابند وي او د هغو خپلواکو بنسټونو ملاتړ ورسره وي چې د عدالت او برابرو حقونو ساتنه کوي.

د قانون حاکمیت باید خلک د واک له خپلسري کارولو څخه خوندي کړي او د تلپاتې سولې بنسټونه برابر کړي.

ستاسو له پاملرنې مننه.